څوک چې د الله جل جلاله له کتاب څخه یو حرف ولولي نو د هغه لپاره د هغه په څېر لس چنده نیکي ده

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «څوک چې د الله جل جلاله له کتاب څخه یو حرف ولولي نو د هغه لپاره د هغه په څېر لس چنده نیکي ده، زه نه وایم چې (الم) یو حرف دی، بلکې (الف) حرف دی، (لام) حرف دی او (میم) حرف دی».

[حسن] [الترمذي روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هر مسلمان چې د الله جل جلاله له کتاب څخه یو حرف لولي نو هغه ته پرې نیکي ده، او ثواب یې ورته تر لس چنده پورې زیاتیږي. بیا یې دا وینا په دې خبره روښانه کړه: چې (زه دا نه وایم چې الم (یو) حرف دی، بلکې الف حرف دی، لام حرف دی او میم حرف دی) نو درې توري کیږي او دیرش نیکۍ پرې دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6275

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee